مجله علمی بین المللی سلام
Salam International Academic Journal
Journal Homepage https//journal.salam.edu.af
یولسم کال، شمیره ۱۹، پسرلی، کال ۱۴۰۵ هـ ش

# مصنوعي ځيرکتيا (AI) ګټې، زيانونه او مشروع کارونه

څیړنپوه سیدحبیب شاکر[۱]

DOI: 10.64104/V11.Issue19.No9.Spring.2026

ISSN 3078-9575 (Print) ISSN 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر ۱۴۰۵/۰۴/۲۰ تعداد صفحات ۱۴ از صفحه ۲۰۱ تا ۲۱۵

**لنډيز**

مصنوعي ځيرکتيا له هغو مختلفو ماشينونو څخه عبارت ده چې د انسان په څير کار کوي، د انساني علم په نتيجه کې د انسانانو له خوا يو مثبت پرمختګ دی، د قرآنکريم آيتونه او نبوي حديثونه د علم لپاره د تشويق زيات دلايل لري، معاصر پوهان د مصنوعي ځيرکتيا کړنې د انسان له کړنو سره د پرتله کولو په اړه مختلف ليدلوري لري، د ژوند په مختلفو اړخونو کې يې د کارونې په اړه متفاوت نظرونه شته، په هر حال زياتې ګټې او کم شمير زيانونه لري، په اسلامي علومو کې يې د کارونې لپاره ځانګړي شرطونه رعايت کول ضروري دي؛ ځکه AI د انسان په څير عقل نلري، او کومه ځيرکتيا چې هغه لري، د همدې انسانانو له لورې ورته تعريف شوي او په دې ماشينونو کې نصب شوې ده. همدا رنګه مصنوعي ځيرکتيا د انسانانو په څېر احساس نلري، ځکه نو د وجوب د اهليت په اړه يې ويلای شو چې نه ناقص اهليت لري او نه هم کامل اهليت، د اداء اهليت يې هم د انسان له مرستې څخه سرچينه اخلي، له همدې امله د قضاء، افتاء او ګواهي دنده په مستقلانه توګه نشي ترسره کولای، د ژوند په نورو معاملاتو کې يې د کارونې د مشروعيت اړوند مختلف نظريات موجود دي پايله يې دا څرګندوي چې کارونه يې په دې شرط جواز لري چې د اسلامي شريعت له اصولو سره ټکر ونلري، که له مصنوعي ځيرکتيا څخه په سمه توګه استفاده وشي نو د اسلامي علومو په خپراوي کې ډېره ګټوره ونډه درلودلای شي، همدارنګه، اړتيا ليدل کيږي چې د مصنوعي ځيرکتيا او شرعي علومو متخصصين په مشترکه توګه د کارونې لارې چارې جوړې او په خورا احتياط او تدريجي ډول ترويج کړي.

**کليدي کليمې:** مصنوعي ځيرکتيا، مشروع کارونه، ګټې، زيانونه.

[۱]. د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړی او د سلام پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استاد، sayedhabibshakir@gmail.com

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.
استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد

## سریزه

الحمدلله رب العلمين و الصلاة و السلام على اشرف الانبياء و المرسلين و بعد:

مصنوعي ځيرکتيا چې انسان د خپل علم په واسطه رامنځته کړې ده اوس مهال يې پرمختګ دې حد ته رسيدلى دى چې ډيرې چارې د انسان له واک څخه باسي، د ژوند په هره برخه کې فعاله ونډه لري، د مترقي نړۍ ټولنې ورځ تربلې د ژوند زياتې ساحې مصنوعي ځيرکتيا ته پريښي دي، د اسلامي شريعت اړوند چارې هم د انساني ټولنيز ژوند يوه برخه ده او دا برخه هم په چټکۍ سره د مصنوعي ځيرکتيا په واسطه ورځ تربلې آسانتياوي رامنځته کوي. د شرعي علومو ټولې برخې د همدې مصنوعي ځيرکتيا په واسطه اغيزناکې شوې دي، ټول ديني نصوص، فقهي نظريات، د شرعي علومو عقيدتي، فکري، معاملاتي، جنايي، عبادتي، اخلاقي او د شخصي احوالو ميدانونه د مصنوعي ځيرکتيا په واسطه له اغيز څخه بې برخې ندي.

مصنوعي ځيرکتيا د دې پيړۍ د علمي پرمختګ ستره نمونه ده، په اسلامي شريعت کې د علم او پوهې لپاره تشويق او ترغيب راغلى دى، انسانان هم هڅه کوي چې د علم په برخو کې پرمختګونه وکړي، همدا وجه ده چې د انسان د هڅو په نتيجه کې داسې ماشينونه رامنځته شول چې په ځيرکه توګه د انسان کارونه په مخ بيايي، مصنوعي ځيرکتيا ته وده ورکول او له هغې څخه ګټوره استفاده کول د علم په بابونو کې يو ستر باب دى چې په دې پيړۍ کې پرانستل شوى دى، او دا کار د پياوړو علماوو د علم په مرسته رامنځته شوى او اسلام په ټوله کې د علم لپاره راغلى دى، خلک هم علم ته رابولي چې زيات شمير آيتونه د علم په اړه هڅونه کوي، لکه د علم د زياتولو دعا" وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا" (طه: ۱۱۴)([i]). ووايه اى ربه زما علم زيات کړه. قرآنکريم د پوهې لرونکو انسانانو مقام لوړ ښودلى دى، الله تعالى فرمايي:" قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ" (الزمر: ۹)([ii]). ووايه ايا پوهان له ناپوهانو سره برابر دي؟(نه هيڅکله برابر ندى). الله تعالى فرمايي:"يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ" (المجادله: ۱۱)([iii]). الله تعالى په تاسو کې د مؤمنانو او د علم ورکړل شويو درجې لوړوي. د کايناتو په اړه فکر کول د قرآنکريم له لارښونو څخه يوه لارښونه ده، الله تعالى فرمايي:" إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ" (آل عمران: ۱۹۰)([iv]). د آسمانونو او ځمکې په پيداکولو، د شپې او ورځې په اختلاف کې د عقل لرونکو لپاره نښې دي.

په ټوله کې قرآنکريم د علم، فکر، تدبر، او د کايناتو په اړه د پوهې زياتولو آيتونه د دې لپاره عمومي دليل ګرځي، چې علم ته وده ورکول يو مطلوب امر دى مسلمان بايد د علم په لټه کې شي، د علم په واسطه وسايل جوړ کړي او له وسايلو څخه علمي ګټه واخلي، نو د AI جوړول، کارول او هغه ته وده ورکول د علم د پراختيا يوه غوره لاره او وسيله ده، خو شرط يې دا دى چې د خير لپاره وکارول شي، او د فساد مخه ورباندې ونيول شي.

AI ستر علم دى علم د خير نښه ده رسول الله ﷺ فرمايلي: "مَن يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ" ([v]). چاته چې د الله خوښه شي په دين کې پوهه ورپه برخه کوي. دا حديث ښيي چې د علم زده کړه د خير سبب دى، مصنوعي ځيرکتيا هم د علم يوه عمده برخه ده چې د طبعي علومو ترڅنګ په شرعي علومو کې هم ورڅخه ګټه پورته کيداى شي. بل ځاى کې رسول الله ﷺ فرمايلي: "مَن سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ([vi])" . څوک چې داسې لاره خپله کړي چې د هغې په واسطه علم ترلاسه کړي نو الله تعالى به هغه ته د جنت لاره آسانه کړي. بل ځاى کې رسول عليه السلام فرمايلي دي: "مَن خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ" ([vii]). څوک چې د علم د حاصولو لپاره بهر شي نو همدا تر هغه مهاله في سبيل الله کې شميرل کيږي ترڅو چې بيرته راستون شي. د ښوونکي او زده کوونکي د مقام په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي: "إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوتَ لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ" ([viii]). الله،

ملايکې، د آسمانونو او ځمکې خلک حتی مېږی په خپل غار کې او کب پر هغه ښوونکي درود وايې چې خلکو ته د خير ښوونه کوي.

په دې عصر کې مصنوعي ځيرکتيا د علم هغه لويه برخه جوړه شوې ده چې ستر هيوادونه اوس د هغې لپاره په مليياردونو ډالره سرمايه گذاري کوي، ترڅو د همدې علم په واسطه نور وسايل او اسباب جوړ کړي د انسان په ژوند کې هوساينه رامنځته کړي، همدا په حقيقت کې د علم د خپراوي او زده کړې لويه برخه ده، د مصنوعي ځيرکتيا په چارو کې بوخت انسانان د معلم او متعلم په قطار کې شميرل کيدای شي، دغه علم هره ورځ ترقي کوي، نبوي احاديث هم د علم زده کړې، خپرولو، او د خلکو د گټې لپاره د پوهې کارولو ته هڅونه کوي، د مصنوعي ځيرکتيا کارونه هم له همدې سره مستقيم تړاو لري.

د دين د ټولو چارو په اړه نظر ورکول د مصنوعي ځيرکتيا په واک کې لويدلی حقيقت دی، همدا ځيرک ژوند د خلکو د عقايدو، اخلاقو، عباداتو او معاملاتو په اړه په چټکه توگه د ډيجيټل معلوماتو ترمنځ د څو ثانيو په ترڅ کې پلټنه کوي، او خپل تحليل د استعمالوونکي لپاره وړاندې کوي، په دې مقاله کې يې گټې زيانونه او د روا کارونې لارې چارې څيړل شوې دي.

**د موضوع سابقه:** د مصنوعي ځيرکتيا په اړه په نورو ژبو کې تر يوه حده په ابتدايي شکل څيړنې شوې دي، خو لا زياتو څيړنو ته اړتيا ليدل کيږي، د افغانستان په ملي ژبو کې تراوسه کومه ځانگړې څيړنه په دې اړه نده ترسترگو شوې، له همدې امله دا هڅه ما وکړه چې په دې برخه کې د هيواد والو لپاره د دې څيړنې د ليکلو په واسطه د نورو څيړنو لاره خلاصه کړم.

**د مقالې ارزښت:** په هيواد کې زيات شمير انترنت کاروونکي له مصنوعي ځيرکتيا څخه استفاده کوي، هر وگړی چې انترنت ته لاسرسی لري هڅه کوي د مصنوعي ځيرکتيا له خدمتونو څخه گټه پورته کړي، خو په ملي ژبو کې د دې ځيرکتيا په اړه داسې څيړنه نده شوې چې خلکو ته له هغې څخه د استفادې پولې واضحې کړي، دا څيړنه به وکولای شي چې خلکو ته د شرعي حکمونو په برخه کې د مصنوعي ځيرکتيا څرنگوالی او ضوابط روښانه کړي.

**د مقالې موخې:** له دې مقالې څخه موخه داده چې لوستونکي وپوهوي چې مصنوعي ځيرکتيا د مسلمان په ژوند کې کوم رول لوبولی شي، او کوم ډول استفاده يې شرعي حيثيت نلري، په مقاله کې هڅه کيږي چې د مصنوعي ځيرکتيا په واسطه د افتاء، قضاء، معاملاتو او زده کړې په اړه ابتدايي شرعي څيړنه وړاندې کړي، ترڅو خلک پوه شي چې له دغې پديدې څخه کوم ډول گټه پورته کول روا بلل کيږي او کوم ډول استفاده ناروا ده.

**په دې مقاله کې لاندې پوښتنې ځوابيږي:**

د مصنوعي ځيرکتيا کارونه کوم ضوابط لري؟ د مصنوعي ځيرکتيا په واسطه فتوی، قضاء، شاهدې او نور د ژوند معاملاتې اړخونه روا دي که ناروا؟

**د څيړنې سرليک:** مصنوعي ځيرکتيا(AI). گټې، زيانونه او مشروع کارونه

## مصنوعي ځيرکتيا

مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence) هغه علمي او تخنيکي ډگر دی چې موخه يې د انسان د فکر، زده‌کړې او پرېکړې کولو وړتياوې په ماشينونو او کمپيوټري سيستمونو کې تقليدکوي. دا د کمپيوټر ساينس، رياضياتو، فلسفې، ارواپوهنې او ژبپوهنې گډه ځانگه ده، چې د انسان په خبر هوښيار چلند رامنځته کوي، مصنوعي ځيرکتيا د هغو سيستمونو پوهه ده، او

داسې عمل کوي چې لیدونکی یې هوښیار یا ځیرک وبولي، دا د انسان د ذهني پروسو تقلید دی، لکه زده‌کړه، منطق، ستونزې حل کول، او پرېکړه کول، او داسې نور.

د مصنوعي ځیرکتیا مفکوره له زرګونو کلونو راهیسې د فلسفې او منطق په بحثونو کې موجوده وه، د ۲۰مې پېړۍ په منځ کې د کمپیوټر ساینس د پرمختګ سره، دا مفکوره په عملي څېړنو بدله شوه، نن ورځ د مصنوعي ځیرکتیا پرمختګ د ټکنالوژۍ د انقلاب په څېر ګڼل کېږي، چې نړیوال اقتصاد او ټولنیز جوړښتونه بدلوي.

## د مصنوعي ځیرکتیا مهمې څانګې

۱. ماشین زده‌کړه : د معلوماتو پر بنسټ د الګوریتمونو زده‌کړه.
۲. ژبنی پروسس: د انساني ژبې درک او تولید.
۳. کمپیوټري لید: د انځورونو او ویډیوګانو تحلیل.
۴. روباتیک : د هوښیارو ماشینونو جوړول چې د انسان په څیر فزیکي عملونه ترسره کړي.

مصنوعي ځیرکتیا له دوه کلمو څخه جوړه شوې ده، (Artificial Intelligence –AI) چې د هرې کلمې معنی یې په لاندې شکل ژباړل کیدای شي: ځیرکتیا هغه توان دی چې انسان یې لري، لکه فکر کول، زده کړه، پرېکړه او داسې نور، مصنوعي په دې معنی چې انسانانو په ماشین یا کمپیوټر کې دا توانونه جوړ کړي دي، چې هغه په اتومات ډول په هر وخت او هرځای کې ټول هغه کارونه ترسره کړي، چې انسان یې ورڅخه غواړي. نو مصنوعي ځیرکتیا داسې پروګرامونه او ماشینونه دي چې د انسان په شان چلند کولی شي. دا ماشینونه زیات شمیر کارونه کوي لکه د ژبو ژباړل، د عکسونو او څېرو پېژندل، داسې ماشینونه چې کارونه په خپله ترسره کوي، د معلوماتو له مخې حل لارې وړاندې کوي، د دغو ماشینونو عادي برخه اوس په کمپیوترونو او موبایلونو کې کارول کیږي، د انسانانو ډیر کارونه په څو ثانیو کې په چټکه توګه اجراء کوي، په ساده ټکو کې ویلای شوچې AI یو هوښیار ملګری دی، چې د ځیرک ټلیفون او یا کمپیوټر په توګه له انسان سره ملګرتیا کوي، خبرې کوي، ستا ستونزې حل کوي، مصنوعي ځیرکتیا انسان نه دی، خو د انسان په څیر کارونه کوي، خو د انسانانو لخوا جوړ شوی دی.

ځینې بیا د "مصنوعي ځیرکتیا" اصطلاح، د هغو ماشینونو د توصیف لپاره کاروي چې د انسانانو د "زده کولو" له کارکړنو تقلید کوي او دا هغه کارکړنې دي، چې انسانان یې له بشري ذهن سره تړي، لکه: "زده کول" او "ستونزې هوارول"، خو د مصنوعي ځیرکتیا ستر څېړونکي دا تعریف نه مني، مصنوعي ځیرکتیا، په ۱۹۵٦میلادي کال کې د یوې علمي څانګې په توګه رامنځته شوه او له هغه مهاله یې د خوشبینۍ ګڼې څپې او ورپسې بیا ناهیلۍ هم رامنځته کړې دي(ix)، چې د هغو ټولو څیړنه په دې مقاله کې نه مطرح کیږي.

## د مصنوعي ځیرکتیا په اړه د معاصرو پوهانو لیدلوري

ډېری عالمان وایي چې مصنوعي ځیرکتیا د انساني تمدن یوه ستره لاسته راوړنه ده، څکه د زده‌کړې، طب، صنعت او د ژوند د آسانتیاوو په برخه کې بې ساري بدلونونه رامنځته کوي، ځینې دیني عالمان باور لري چې AI کولای شي د دیني متنونو ژباړې، د قرآن کریم تلاوتونو خپرول، او د اسلامي علومو تدریس کې عملا مرسته کوي، د فقهي او دیني پوښتنو د ځواب ورکولو لپاره د AI کارول د خلکو لپاره ګټور ګڼل کېږي؛ څکه ژر او په پراخه کچه ځوابونه وړاندې کوي، خو پوهان لاکار کوي ترڅو په دې برخه کې موجوده ستونزو ته د حل لپاره لارې پیداکړي، او له ستونزو څخه پاکه مصنوعي ځیرکتیا انسان ته وړاندې کړي.

یو شمېر نور عالمان بیا خبرداری ورکوي چې د مصنوعي ځیرکتیا بې‌مهاره کارول د انسان د طبیعت او فطرت سره په ټکر کې واقع کېدای شي، لکه څنګه چې د غرب مادي تمدن ته نیوکه کېږي، ځینې وايي که انسان د AI تر سیوري لاندې ډېر ژوند وکړي، د انساني عقل او روحاني ارزښتونو کچه به راټیټه شي، د ځینو عالمانو په اند، که AI د انسان پر ځای د پرېکړو واک ترلاسه کړي، نو دا د "خلافت انسان" اصل ته زیان رسوي، ځکه په اسلام کې انسان د الله تعالی د خلیفه په توګه ټاکل شوی دی(۸).څېړنې ښيي چې AI د نړۍ په کلتورونو او دینونو کې د بحث موضوع ګرځېدلې ده، د څېړنو له مخې، AI د صنعتونو او عامه ژوند په بدلون کې انقلابي رول لري، خو د افسانوي برداشتونو او ناسم پوهاوي له امله د دیني او کلتوري اندېښنو سره مخ دی.

اما ډېری معاصر عالمان وړاندیز کوي چې AI باید د دیني اصولو، اخلاقي چوکاټ او انساني کرامت په رڼا کې وکارول شي، د دیني او علمي شوراګانو له خوا د څارنې او لارښوونې سیستم باید جوړ شي، څو د AI کارونه د دیني ارزښتونو خلاف ونه کارول شي، ټینګار کېږي چې انسان باید د پرېکړو اصلي واکمن پاتې شي، او AI یوازې د مرستې وسیله وي. مصنوعي ځیرکتیا د دیني عالمانو په نظر کې یو فرصت هم دی او یو ګواښ هم، که د دیني اصولو او انساني کرامت په رڼا کې وکارول شي، نو د دین خدمت او د ژوند آسانتیاوې زیاتوي؛ خو که بې‌مهاره پرېښودل شي، د انسان د روحاني ارزښتونو او د دیني اصولو د کمزوري کېدو خطر لري.

### د مصنوعي ځیرکتیا مهمې ګټې

۱. AIکولی شي ډېر معلومات په چټک ډول تحلیل کړي او انسان ته یې په ساده بڼه وړاندې کړي، همدا د زده کړې او پوهې پراختیا کې مرسته کوي.
۲. هغه کارونه چې له انسان څخه ډېر وخت نیسي، AI یې په څو ثانیو کې ترسره کوي، لکه د ژباړې، حسابونو، او د معلوماتو لټون او داسې نور.
۳. ډاکټران د AI په مرسته ناروغۍ ژر تشخیص کولی شي، د درملنې پلانونه جوړوي، او د ناروغانو حالت څاري.
۴. په سوداګرۍ کې پرمختګ راولي، AI د بازار تحلیل کوي، د پیرودونکو اړتیاوې پېژني، او د کاروبار د ښه کولو لارې ښيي.
۵. په ورځني ژوند کې آسانتیا د غږ پېژندنه، د موټرو اتومات چلولو سیستمونه، او د کور هوښیار وسایل ټول د AI له برکته دي.

په لنډه توګه مصنوعي ځیرکتیا د انسان لپاره یو هوښیار مرسته کوونکی دی چې ژوند اسانوي، کارونه ګړندي کوي، او د علم او صنعت په پرمختګ کې لوی رول لري.

### د مصنوعي ځیرکتیا زیانونه

مصنوعي ځیرکتیا د ګټو ترڅنګ یو شمیر زیانونه هم له ځان سره لري، چې هغه عبارت دي له: کله چې ماشینونه او روبوټونه د انسان کارونه ترسره کړي، ډېر خلک خپلې دندې له لاسه ورکوي، که خلک هر څه AI ته پرېږدي، نو د دوی د فکر کولو او ستونزو د حل کولو وړتیا کمېږي، AI ډېر معلومات راټولوي، که دا معلومات ناوړه وکارول شي د خلکو شخصي ژوند ته زیان رسېږي، ځینې وختونه AI داسې پرېکړې کوي چې د انسان د اخلاقو او دیني اصولو خلاف وي، که AI د وسلو او جګړو لپاره وکارول شي نو دا د انسانیت لپاره لوی خطر دی، AIکولی شي جعلي خبرونه، انځورونه او ویډیوګانې جوړې کړي چې خلک ورباندې وغولېږي او حقیقت له خلکو ورک کړي. همدا ټول زیانونه هغه مهال رامنځته کیږي چې مصنوعي ځیرکتیا بې‌کنټروله او بې‌مسؤلیته وکارول شي، د مصنوعي ځیرکتیا د ګټو او زیانونو له بیان څخه وروسته اړینه ده چې د ژوند په څو

مهمو برخو کې د هغې د کارونې یوشمیر احکام بیان کړو، ترڅو لوستونکي وکولای شي د شریعت په رڼا کې ورڅخه استفاده وکړي.

**په اسلامي علومو کې د کارونې شرطونه**

په اسلامي علومو کې په کامله توګه پر مصنوعي ځیرکتیا باندې تکیه کول درست کار ندی، د علماوو څارنه او تائید د مصنوعي ځیرکتیا له خوا د وړاندې شویو معلوماتو په اړه ډېر ضروري او حتمي کار دی؛ ځکه AI یوازې یوه وسیله ده، وسیله کله ناکله غلط معلومات وړاندې کوي، نو باید د متخصصو علماوو څارنه موجوده وي، مصنوعي ځیرکتیا د سرچینو په اړه دقت نکوي، ضعیف او قوي معلومات چې په انټرنیټي صفحو پراته وي راټولوي او تحلیل کوي، چې همدا کار د دې باعث کیږي چې تحلیل نادرست او غیر موثق راووځي، AI نشي کولای چې یواځې له معتبرو سرچینو څخه کار واخلي، په شرعي علومو کې همدا ترټولو اړینه خبره ده، په اسلامي شریعت کې باید تنها د قرآنکریم، صحیح حدیث، او د معتبرو فقهي کتابونو څخه معلومات ترلاسه شي، د نامعلومو یا ضعیفو سرچینو کارول د خطا سبب کېږي، د غلطو معلوماتو مخنیوی باید داسې میکانیزمونه ولري چې AI د جعلي یا ناسمو معلوماتو خپرولو مخه ونیسي، مصنوعي ځیرکتیا باید د اسلامي اخلاقو او آدابو په رڼا کې وکارول شي، د دروغو، غیبت، یا د خلکو د شخصي رازونو نه خپرول، هغه شرعي حکمونه دي چې رعایت یې ضروري دی، د دې ځیرکتیا کارول باید د دین خدمت، د زده کړې اسانتیا، او د خلکو د پوهې زیاتولو لپاره وي، مصنوعي ځیرکتیا د اسلامي علومو لپاره یو ګټور مرسته کوونکی دی، خو شرط یې دا دی چې د علماو څارنه، معتبرې سرچینې، اخلاقي اصول، او د انسان د اجتهاد ځای نه نیول په پام کې ونیول شي.

**مصنوعي ځیرکتیا د انسان په څیر عقل نلري**

په اسلامي شریعت کې هغه چارې چې د فاعل لپاره یې عقل شرط دی (لکه عبادات، معاملات، قضاوت، شهادت، افتاء او نور)، مصنوعي ځیرکتیا هېڅکله د اصلي فاعل یا مکلف په توګه نشي شمیرل کېدای، خو د مرستې لپاره د وسیلې په توګه منل کیدای شي، په دې معنی چې وسایل د انسان د عقل ځای نه نیسي، خو د عقل لرونکي انسان سره مرسته کولای شي، مصنوعي ځیرکتیا کولای شي د قرآنکریم، نبوي حدیثونو او فقهي کتابونو متنونه او سرچینې وړاندې کړي، ترڅو عاقل انسان له هغو څخه په استفادې پریکړې وکړي، د فقهي مسایلو د مقایسې، توضیح او تحلیل لپاره جدولونه جوړول او د نظرونو د ترتیب کولو سره مرسته کوي، خو وروستۍ پرېکړه یوازې د انسان کار دی، مصنوعي ځیرکتیا کولای شي د عباداتو وختونه (لکه د لمانځه وختونه، د روژې مهالونه) یادونه او تنظیم وکړي، خو د عبادت نیت او عمل یوازې د انسان کار دی، او له هغه څخه منل کیږي. مصنوعي ځیرکتیا د حقوقي اسنادو په چمتو کولو کې مرسته کولای شي، د نکاح، طلاق، خرڅلاو او نورو معاملاتو د متنونو مسودې برابروي، خو د عقد د صحت لپاره د انسان قصد او رضا شرط ده، مصنوعي ځیرکتیا د عقل لرونکي انسان ځای نه نیسي، ځکه عقل، نیت، تقوا او مسؤولیت یوازې انسان ته ورکړل شوي دي، د مصنوعي ځیرکتیا (AI) په وسیله د معاملاتو اجرا کول په اصل کې جایز دي، خو شرط دا دی چې د شریعت اصول لکه صداقت، شفافیت، د ربا، ابهام او قمار ته ورته معاملو څخه پاک وي[xi]. که AI یوازې د انسان د وسیلې په توګه کارول کېږي او د شریعت خلاف عمل نه کوي، نو شرعاً کومه ستونزه نلري، مصنوعي ځیرکتیا په اصل کې د انسان د فکر تقلید کوونکی ماشیني سیستم دی، چې د معلوماتو پر اساس پرېکړې کوي، په مالي چارو کې د AI کارول د تحلیل، وړاندوینې او د معاملو د سرعت لپاره ډېر ګټور ثابت شوی دی، په معاملاتو کې که AI یوازې د وسیلې په توګه کارول کېږي، یعنې د انسان د پرېکړې د تطبیق لپاره استفاده ورڅخه کیږي نو دا د قلم، کمپیوټر یا نورو وسایلو په څېر حکم لري، خو ستونزه هغه وخت پیدا کېږي چې AI ته خودمختاره واک ورکړل شي او

هغه داسې معاملې وکړي چې انسان يې نه کنټرولوي، په دې حالت کې د غرر (نامعلوميت) خطر زياتېږي، د AI په وسيله د معاملو اجرا کول شرعاً جايز دي، تر هغه چې د شريعت اصول مراعات شي، يعنې AI بايد يوازې د انسان د پرېکړې د تطبيق وسيله وي، نه دا چې په خپله د شريعت خلاف معاملې ترسره کړي(xii).

**په فقهي او حقوقي چارو کې د مصنوعي ځيرکتيا د کارونې حکم**

په ټوله کې د مصنوعي ځيرکتيا سره تړاو لرونکي فقهي مسائل په لاندې نقطو کې تر بحث لاندې نيول کيږي:

١. په اسلامي شريعت کې د حقوقي او معاملاتي چارو د اعتبار لپاره عقل يو مهم او ضروري شرط دی، ځکه ټول کارونه د قصد، نيت او پوهې غوښتنه کوي، عقل هغه الهي نعمت او ذهني ځواک دی چې انسان پرې فکر کوي، پوهيږي، سم او ناسم بيلوي، پايلې سنجوي او پريکړې کوي، عقل په خپل وار سره فطري او کسبي اړخونه لري، او عقل د علماوو له نظره په زړه کې قرار لري خو د کار کولو آله يې دماغ دی، بې‌عقله موجود نشي کولای چې د ژوند د چارو مسؤوليت واخلي(xiii)، د مثال په توګه د شخصي احوالو په برخه کې د نکاح د صحت لپاره عقل ضروري شرط دی، بې عقله موجود نشي کولای نکاح وکړي او يا نکاح وتړي؛ ځکه نکاح د قصد او رضا غوښتنه کوي، مصنوعي ځيرکتيا او رباتونه د نکاح لپاره جوګه ندي، نه له هغو سره نکاح درسته ده او نه د هغوی په واسطه نکاح مشروعيت لري، وصيت هم يوازې د عاقل کس له خوا صحيح دی، ځکه دا د قصد او پوهې غوښتنه کوي، په همدې توګه بې‌عقله کس وکيل کېدای نشي، ځکه وکالت د عقل غوښتنه کوي، د مالونو اخيستل او خرڅول هم د عقل غوښتنه کوي، مشتري او بايع دواړه بايد عاقلان وي بې‌عقله کس نشي کولای مال په معامله کې ورکړي يا يې واخلي، په همدې توګه د اجارې عقد يوازې هغه وخت صحيح کيدای شي چې دواړه طرفونه يې عاقلان وي. په همدې توګه په ټولو حقوقي او معاملاتي چارو کې(xiv)، د عاقدينو لپاره چې ايجاب او قبول کوي عقل شرط بلل شوی دی، بې‌عقله کس د حقوقي او مسؤليتي کارونو جوګه نه بلل کيږي.

د جناياتو په برخه کې هغه مجرم مجازات کيدای شي چې عقل لرونکی وي، حيوانات، ليونيان او اطفال که د جرم مرتکب کيږي، مسؤوليت يې سرپرستانو ته راجع کيږي، خپله غير عاقل اشخاص د مجازات کولو مستحق نه کيږي، په دې اړه د فقهاوو قديمي بحثونه شتون لري چې يوازې هغه چاته جرم راجع کوي چې هغه انسان وي، او د عقل څښتن وي، په دې اړه فقهاء کرام وايې:

«**وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا يَقُودُ قِطَارًا وَآخَرُ من خَلْفِ الْقِطَارِ يَسُوقُهُ وَعَلَى الْإِبِلِ في الْمَحَالِّ نِيَامٌ أو غَيْرُ نِيَامٍ فوطيء بَعِيرٌ منها إنسانا فَقَتَلَهُ فَالدِّيَةُ على عَاقِلَةِ الْقَائِدِ وَالسَّائِقِ وَالرَّاكِبِينَ الَّذِينَ قُدَّامَ الْبَعِيرِ**»(xv). که چيرې يوه سړې قطار روان کړی وي او بل سړی د قطار شخه وروسته همدا قطار روانوي په داسې حال کې چې دوی پر اوښانو سپاره بيده وي او يا بيده نه وي، په همدې وخت کې اوښ يو انسان تر پښنو لاندې کړي او هغه مړ شي، ديت د مخکې لارښوونکي، وروسته روانوونکي او سپرو مخکينيو کسانو پر عاقله باندې لازمي کيږي.

په بل ځای کې راغلي دي: «**إلَّا أَنْ يَكُونَ إنْسَانًا مُؤَجَّرًا وَيَسُوق فَيَكُونَ عَلَيْهِ وَعَلَى السَّائِقِ الَّذِي خَلْفَهُ يَشْتَرِكُونَ جَمِيعًا**»(xvi). مګر داچې هغه انسان وي مکافات ولري او يا هغه روانوي(چلوي) نو پر همده او پر هغه چا چې د شا له خوا يې چلوي په مشترک ډول تاوان لازمي کيږي.

په دې متن کې په څرګنده توګه ښکاريږي چې له انسان څخه پرته پر غير عاقلو شيانو لکه اوښان چې څوک ترپښو لاندې کړي مجازات نشته، بلکې مجازات هغه انسان ته ورکول کيږي چې همدا حيوانات يې روان کړي وي او يايې سمبالوي، نو له

همدې امله ویلای شو چې مصنوعي ځیرکتیا د جرم په ارتکاب کې مسؤولیت نلري بلکې مسؤولیت هغه انسان ته راجع کیږي چې همدا مصنوعي ځیرکتیا استعمالوي.

۲. په ټولو معاملاتو کې له بالغ انسان څخه ایجاب او قبول اړین او ضروري شرط دی، په اسلامي فقه کې یوشمیر داسې عقدونه هم فقهاوو بحث کړي دي چې هلته هیڅ ایجاب او قبول د الفاظو په شکل نه صادریږي بلکې د عرف له مخې اخیستل او خرڅول کیږي، دغه ډول خرڅولو ته په اسلامي فقه کې (بیع المعاطاة) ویل کیږي، معاطاة یعني په پټه خوله د ثمن ورکول او د مبیع اخیستل، یا په بل عبارت له ایجاب او قبول څخه پرته اخیستلو او خرڅولو ته ویل کیږي، مصنوعي ځیرکتیا متنوع ډولونه لري چې په یوشمیر کارونو کې ایجاب او قبول هم کوي او داسې انواع هم لري چې هیڅ ایجاب او قبول پکې نه رعایت کیږی، د معاطاة بیع په اړه قدیمي فقهاء کرام درې نظرونه لري:

**اول نظر** د شافعیانو دی دوی معاطاة بیع ناجایز بولي(xvii)

**دویم نظر** له احنافو څخه د امام کرخي او له شافعیانو څخه د ابن سریج دی، دوی وایې بیع معاطاة په کم ارزښته شیانو کې روا ده او په قیمتي شیانو کې جواز نلري(xviii)

**دریم نظر** د جمهورو احنافو، مالکیانو او حنبلیانو دی، دا قول د معاطاة بیع په ټولو چارو کې روا بولي(xix)

د همدې وروستي قول پر بنا د رباتونو په واسطه اخیستل او خرڅول او همداسې نور معاملات چې ایجاب او قبول پکې نه ترسره کیږي بلکې په اتوماتیکه توګه عقد ترسره کیږي جواز پیدا کوي. دا خبره هم د یادولو ده چې یو شمیر مصنوعي ځیرکتیا وي په معاملاتو او عقدونو کې ایجاب او قبول هم کوي، د همدې ډول خرید رواوالی له عرف څخه سرچینه اخلي داچې د خلکو عرف او عادت راغلی دی نو جمهورو فقهاوو هم منلی دی.

۳. په معاملاتو کې ایجاب او قبول باید له اهلیت لرونکي شخص څخه صادر شي، اهلیت په اسلامي شریعت کې هغه موضوع ده چې ټول مکلفیتونه په اسلامي شریعت کې ورڅخه سرچینه اخلي، هغه اشخاص چې کامل اهلیت لري، کولای شي عقدونه ترسره کړي، یو شمیر داسې موارد هم شته چې انسان په هغو کې ناقص اهلیت لري، د ناقص اهلیت د لرلو په صورت کې عقد هم ځانګړي حکمونه لري، اهلیت په اسلامي شریعت کې «هغه صفت دی چې شارع یې په شخص کې اندازه کوي چې د هغه په واسطه هغه د شارع د خطاب لپاره د محل صلاحیت ترلاسه کوي» اهلیت په خپلوار سره په دوه ډوله دي:

**اول: د وجوب اهلیت:** دېته وایې چې «د انسان لپاره او یا پر ده باندې د مشروع حقونو صلاحیت ورکړل شي» چې «ذمه» هم ورته ویل کیږي ذمه په انسان کې هغه شرعي اندازه شوي وصف ته ویل کیږي چې د الزام او التزام صلاحیت ورپه برخه کوي، همدا صفت د انسان لپاره د ولادت له نیټې څخه بیا تر مرګ پوري ورپه برخه کیږي، د جنین لپاره د مور په خېټه کې په یوه لحاظ یو ډول اهلیت ورکول کیږي، د وجوب اهلیت په خپل وارسره دوه ډولونه لري:

**الف: د ناقص وجوب اهلیت:** دا هغه وصف دی چې د انسان لپاره یواځې حقونه واجبوي، اما د دې صلاحیت نلري چې مسؤولیتونه ورته راجع کړي، همدا ډول اهلیت د طفل لپاره ثابتیږي، مګر دغه اهلیت په همدې ډول سره مصنوعي ځیرکتیا ته ندی ورکړل شوی.

**ب: د کامل وجوب اهلیت:** داهغه ډول ذمې ته ویل کیږي چې انسان یې له امله حقوق ترلاسه کوي او مسؤولیتونه ورباندې تحمیل کیږي، دا ډول اهلیت انسان د مسؤولیتونو او حقونو دواړو لپاره جوګه کوي.

**دویم: د اداء اهلیت:** دا اهلیت انسان د دې جوګه کوي چې یو فعل ورڅخه صادر شي او هغه په شرعي لحاظ اعتبار ولري[xx].

اوس سوال دادی چې ایا مصنوعي ځیرکتیا په خاصه توګه رباتونه اهلیت لري؟ که یې نلري؟

**اول نظر:** دادی چې هیڅ اهلیت نلري، همدا وسایل د جماداتو حیثیت لري، **دویم نظر:** دادی چې دا وسایل اهلیت د وجوب او د مالي ذمې لري، کټ مټ د معنوي شخصیت په توګه، د دې نظر په اساس رباتونه ټول هغه احکام خپلوي چې حقوقي شخصیت یې لري، او حقوقي اشخاصو ته په اسلامي فقه کې د غلامانو د بحث سره تړاو ورکول کیږي، که څه هم دا دواړه له یوه بل سره په زیاتو مواردو کې تفاوتونه لري، خو د فعالیتونو په ترسره کولو کې ورسره مشابهتونه هم لري[xxi].

**دریيم نظر:** ځیرک رباتونه د بشر په څیر مستقل شخصیتونه دي په ټولنه کې ټولې هغه کړنې کوي چې انسانان یې کوي، حتی هڅه کیږي چې همداسې ځیرکې پرزې د انسان په وجود کې نصب کړل شي، ترڅو پر انسان باندې واک او کنترول هم ترلاسه کړي[xxii]، د دې لیدلوري په اساس مصنوعي ځیرکتیا کامل اهلیت پیدا کوي، خو زما په اند دا نظر پر معاصرو ځیرکو وسایلو باندې نشي تطبیق کیدای ځکه له یوه بل سره زیات تفاوتونه لري.

**په قضا کې د مصنوعي ځیرکتیا د کارونې حکم**

په اسلامي شریعت او په بشري قوانینو کې د قاضي لپاره ځینې شرطونه لازمي دي، چې له هغو څخه تر ټولو مهم شرط عقل، شعور، عدالت، تجربه او انساني درک دی[xxiii]. او دغه ډول مواصفات په مصنوعي ځرکتیا کې نشته، نو له همدې امله مصنوعي ځیرکتیا نشي کولای د قاضي په توګه دنده اجراء کړي؛ ځکه مصنوعي ځیرکتیا د انسان په څیر عقل نلري او تکلیف یوازې عاقل انسان ته ورکول شوی، په اسلامي شریعت کې قضاوت د مکلف انسان کار دی، داچې مصنوعي ځیرکتیا عقل نلري، د هغه انسان مواصفات پکې نشته چې د قاضي په توګه دنده اجراء کړي، مصنوعي ځیرکتیا یوازې د انسان له خوا جوړه شوې وسیله ده، انسان چې څه پکې انسټال کړي وې هماغه کار کولای شي، مصنوعي ځیرکتیا وجدان او احساس هم نلري، قاضي باید د خلکو د حالاتو، دردونو او شرایطو درک وکړي، مصنوعي ځرکتیا احساس، رحم او وجدان نلري، یوازې د معلوماتو پر اساس محاسبه کوي، په اسلامي شریعت او بشري قوانینو کې قاضي د خپلو پریکړو مسؤول بلل کیږي، که خطا وکړي، د الله او خلکو پر وړاندې ځواب ورکوونکی دی، دا صفت مصنوعي ځرکتیا نلري او د الله او خلکو پر وړاندې مسؤوله هم نده.

د قاضي لپاره یو اړین صفت عدالت دی او عدالت د نیت او تقوا غوښتنه کوي، قضاوت یوازې د قانوني موادو پر اساس نه ترسره کیږي، بلکې له قاضي څخه د انصاف، تقوا او نیت غوښتنه هم کوي، مصنوعي ځرکتیا نیت او تقوا نلري، په همدې توګ مصنوعي ځیرکتیا د شرایطو او عرف درک نلري، قاضي د ټولنې د عرف، دود او شرایطو په رڼا کې پرېکړې کوي، مصنوعي ځرکتیا یوازې هغه څه محاسبه کوي چې ورته پروګرام شوي وي، نو د ژوند واقعي پیچلتیا نشي درک کولای[xxiv]. په اسلامي شریعت او انساني قوانینو کې قضاوت د انسان ځانګړې مسؤولیت دی، ځکه عقل، وجدان، تقوا او احساس یوازې انسان ته ورکړل شوي دي، مصنوعي ځرکتیا د معلوماتو د پروسس وسیله ده، نه د عدالت د تحقق، له همدې امله ویلای شو چې د دې عصر مصنوعي ځیرکتیا نشي کولای د قاضي دنده ترسره کړي او د خلکو ترمنځ پریکړې وکړ، اما قاضي کولای شي د مصنوعي ځیرکتیا په مټ غوره حکم او پریکړه د موجوده قوانینو، شواهدو او د طرفینو د حالتو په اړه کره معلومات راټول کړي او بیا د هغو په رڼا کې د شریعت مطابق پریکړه وکړي، په دې معنی چې قاضیان کولای شي د خپلې دندې د اداء کولو په باب له مصنوعي ځیرکتیا څخه د وسیلې په توګه استفاده وکړي.

## په افتاء کې د مصنوعي ځيرکتيا د کارونې حکم

فتوی ورکول په اسلامي شريعت کې ځانګړې دنده ده، په عقايدو، معاملاتو، جناياتو، اخلاقياتو او شخصي احوالو کې خلکو ته شرعي احکام بيانول د مفتي له دندو څخه شميرل کيږي، مفتي هم په اسلامي شريعت کې د ځانګړو مواصفاتو لرونکي عالم ته ويل کيږي، فتوی ورکول يوازې د عالِم، فقيه او مجتهد انسان کار ګڼل کېږي(xxv)، مصنوعي ځيرکتيا نشي کولای د مفتي دنده په پوره توګه اجراء کړي؛ ځکه مفتي بايد د قرآنکريم، نبوي سنتو، اجماع او قياس په اصولو کې ژور علم ولري، مصنوعي ځيرکتيا يوازې د هغو معلوماتو پروسس کوي چې له پخوا پکې ځای پرځای شوي وي، پروسس شوي معلومات په هر وخت کې نشي کولای د وحی د الهام او اجتهاد ورتيا ولري.

فتوا يوازې د علم پر اساس نده، بلکې د تقوا، ديانت او اخلاص غوښتنه هم کوي، مصنوعي ځيرکتيا نه نيت لري او نه تقوا، نو د فتوا لپاره ور نه بلل کيږي، مفتي د خپلې فتوی پر وړاندې د الله او خلکو لپاره مسؤول دی، مصنوعي ځيرکتيا نه د الله پر وړاندې ځواب ورکوونکې ده او نه د خلکو، له همدې امله د فتوی مسؤوليت نشي اخيستلای(xxvi)، مفتي بايد د خلکو د حالاتو، عرف او شرايطو درک وکړي، مصنوعي ځيرکتيا يوازې هغه څه وړاندې کوي چې ورته پروګرام شوي وي، د ژوند واقعي پيچلتيا نشي درک کولای، فتوی د قصد، نيت او شعور غوښتنه کوي، مصنوعي ځيرکتيا هغه نيت او اخلاص نلري چې اسلامي شريعت يې معتبر بولي، معاصره مصنوعي ځيرکتيا يوازې د انسان له خوا جوړه شوې وسيله ده د مفتي انسان مواصفات نشي خپلولای(xxvii).

په لنډه توګه ويلای شو چې فتوی ورکول د علم، تقوا، اجتهاد، نيت، ديانت او مسؤوليت غوښتنه کوي، چې همدا ټول يوازې انسان ته ورکړل شوي مواصفات دي، مصنوعي ځيرکتيا د معلوماتو د پروسس وسيله ده، نه د ديني مسؤوليت لرونکی موجود، له همدې امله په اسلامي شريعت کې د مصنوعي ځيرکتيا فتوی اعتبار نلري، ځوک که مصنوعي ځيرکتيا څخه استفتاء غواړي اړينه ده، چې د مصنوعي ځيرکتيا فتوی يوه مفتي ته وړاندې کړي ترڅو هغه د مطرح شويو معلوماتو کره والی او د فتوی صحت بيان کړي. مګر مفتي کولای شي د معلوماتو په ترلاسه کولو کې له مصنوعي ځيرکتيا څخه ګټه پورته کړي د مستفتي او سوال کوونکي حالات ترلاسه کول له هرې مشروع وسيلې څخه د مفتي لپاره جايز کار دی، له همدې امله ويلای شو چې مفتي له مصنوعي ځيرکتيا څخه د خپلې دندې په ترسره کولو کې د يوې مشروع وسيلې په توګه استفاده کولای شي.

## د ګواهي ورکولو په اړه د مصنوعي ځيرکتيا حکم

په اسلامي شريعت کې د شهادت (ګواهي ورکولو) لپاره ځانګړي شرطونه دي(xxviii)، چې له هغو څخه تر ټولو مهم يې عقل، بلوغ، عدالت، ديانت او د حالاتو درک دی(xxix)، مصنوعي ځيرکتيا ځکه د شاهد په توګه نشي منل کېدای چې شاهد بايد عاقل انسان وي، مصنوعي ځيرکتيا عقل نلري، شاهد بايد د ګناهونو څخه ځان ساتونکی او د تقوا لرونکی وي، مصنوعي ځيرکتيا نه عدالت لري او نه ديانت، شاهد د خپلې ګواهي پر وړاندې د الله او خلکو لپاره مسؤول دی، مصنوعي ځيرکتيا نه د الله پر وړاندې ځواب ورکوونکې ده او نه د خلکو، شاهد بايد په قصد او نيت سره ګواهي ورکړي، مصنوعي ځيرکتيا نيت نلري، يوازې د معلوماتو پروسس وړاندې کوي، شاهد بايد د پېښې شرايط، عرف او د خلکو حالاتو ته متوجه وي، مصنوعي ځيرکتيا د ژوند واقعي پيچلتيا نشي درک کولای او د هرې پيښې په اړه يې معلومات زياتي ستونزې لري، په اسلامي شريعت کې د شاهدۍ لپاره شرطونه يوازې په انسان کې پوره کېږي(xxx)، مصنوعي ځيرکتيا د دې شرطونو لرونکې نده، نو د شاهد په توګه يې شاهدي د اعتبار وړ نه ده، اما ځيرکې کامرې او ماشينونه د ګواهۍ او اقرار سره د حقايقو په درک او کشف کې مرسته کولای شي، په همدې توګه د ګواهانو د ګواهۍ لپاره مصنوعي ځيرکتيا مرستندويه واقع کېدای شي.

### د شرعي علومو لپاره د معلم په توګه د *AI* د استعمال حکم

مصنوعي ځيرکتيا د تعليمي وسايلو په څير يوه مهمه او معاصره کارنده وسيله ده، له هغې څخه استفاده په ټولو علومو کې زياتي ګټې لري، شرعي علوم هم د نورو علومو په څير د مصنوعي ځيرکتيا په واسطه ډير آسانه شوي دي، زيات شمير سهولتونه د معلمينو، متعلمينو، پوهانو او محققين لپاره رامنځته کوي، له دې وسيلې څخه روا ګټه اخيستل او معلومات ترې زده کول مشروع کار دی، لکه څنګه چې له کتاب، قلم، تختې، تباشير او نورو تعليمي او تحصيلي وسايلو څخه دعلم په زده کړه کې کار اخيستل کيږي له دې معاصرې وسيلې څخه هم ګټه اخيستنه جواز لري، په همدې توګه لکه څنګه چې له ټولو تعليمي وسايلو څخه يوازې مشروع ګټه جواز لري، په همدې توګه له مصنوعي ځيرکتيا څخه د شرعي علومو په حصول کې مشروع ګټه جواز لري.

### پايله

د مصنوعي ځيرکتيا کارونه يوازې هغه وخت روا او ګټوره ده، چې د شريعت له اصولو سره په ټکر کې نه وي، مصنوعي ځيرکتيا د انسان د ژوند په بېلابېلو برخو کې د اسانتيا، پرمختګ او نوښت وسيله ده، خو د هغې کارونه بايد د اسلامي ارزښتونو، د محرميت د ساتنې، د عدالت د تحقق او د انسان د کرامت د درناوي په چوکاټ کې ترسره شي، له دې امله، د دې ټکنالوژۍ د حکم په اړه د علماوو، متخصصينو او قانون جوړونکو ګډه همکاري اړينه ده، ترڅو د ګټې اخيستنې پر مهال د ديني اصولو او ټولنيزو اړتياوو ترمنځ توازن وساتل شي. مصنوعي ځيرکتيا په يواځې توګه د دې جوګه نده چې د قاضي، مفتي او شاهد په توګه عمل وکړي او هغه ومنل شي، ځکه په دې ډول مسؤوليتونو کې د عاقل، بالغ انسان شرط په صريحو نصوصو باندې ثابت شوی دی. د ژوند په نورو معاملاتو کې د يوه عاقد په توګه د مصنوعي ځيرکتيا رول د اختلاف وړ موضوع ده، په دې اړه يو شمير عقدونه په مستقلانه توګه ترسره کولای شي او څه نور بيا د پوهانو له نظره د اختلاف ځای دی، چې د هر عقد په اړه ځانګړې څيړنې ته اړتيا ده.

### وړانديزونه:

۱. د اسلامي شريعت د اصولو پر بنسټ بايد د مصنوعي ځيرکتيا د کارونې لپاره واضحه لارښودونه او قوانين جوړ شي، ترڅو د هغو له مخې په ديني چارو کې غوره استفاده ورڅخه وشي.
۲. د ديني عالمانو، تخنيکي متخصصينو او قانون جوړونکو ګډه مشوره اړينه ده ترڅو د ټکنالوژۍ استعمال د شريعت له اصولو سره د سمون په اړه په دې برخه کې موجوده ستونزې لرې شي.
۳. د معلوماتو د محرميت، د انسان د کرامت او د عدالت د تحقق لپاره بايد ځانګړي ميکانيزمونه رامنځته شي، ترڅو مصنوعي ځيرکتيا په ښه توګه د شرعي احکامو په عملي کولو کې مرسته وکړي.
۴. د ټولنې د پوهاوي لپاره بايد د مصنوعي ځيرکتيا د شرعي اړخونو په اړه عمومي روزنيز پروګرامونه جوړ شي.
۵. پوهنتونونه او څېړنيز مرکزونه دې وهڅول شي چې د مصنوعي ځيرکتيا د شرعي اړخونو په اړه ژورې، دقيقي او هر اړخيزه څېړنې ترسره کړي.
٦. د مصنوعي ځيرکتيا په اړه د نورو اسلامي هېوادونو د تجربو څخه ګټه اخيستل او د هغوی د کړنلارې ارزونه کولی شي د مصنوعي ځيرکتيا د ښه مديريت لپاره مرسته وکړي.

i- تفسير القرآن العظيم (ابن كثير)، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ٧٧٤هـ)، المحقق: محمد حسين شمس الدين، الناشر: دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، الطبعة: الأولى - ١٤١٩ هـ، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، وهو ضمن خدمة مقارنة التفاسير]، ج:٥، ص:١٧٥.

ii- روح البيان، إسماعيل حقي بن مصطفى الإستانبولي الحنفي الخلوتي , المولى أبو الفداء (المتوفى: ١١٢٧هـ)، الناشر: دار الفكر – بيروت، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، وهو ضمن خدمة مقارنة التفاسير]، ج:١، ص:١٠٢.

iii- التفسير الوسيط للقرآن الكريم، مجموعة من العلماء بإشراف مجمع البحوث الإسلامية بالأزهر، الناشر: الهيئة العامة لشئون المطابع الأميرية، الطبعة: الأولى، (١٣٩٣ هـ = ١٩٧٣ م) - (١٤١٤ هـ = ١٩٩٣ م)، عدد المجلدات: ١٠ مجلدات، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع]، ج:١٠، ص:١٣٣٣.

iv- الموسوعة القرآنية، إبراهيم بن إسماعيل الأبياري (المتوفى: ١٤١٤هـ)، الناشر: مؤسسة سجل العرب، الطبعة: ١٤٠٥ هـ، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، وهو ضمن خدمة مقارنة التفاسير]، ج:٢، ص:٢١.

v- مُخْتَصَر صَحِيحُ الإِمَامِ البُخَارِي، أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي بن آدم، الأشقودري الألباني (المتوفى: ١٤٢٠هـ)، الناشر: مكتَبة المَعارف للنَّشْر والتوزيع، الرياض، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠٢ م، عدد الأجزاء: ٤، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع]،ج:١، ص:٣٦.

vi- مسند الإمام أحمد بن حنبل، أحمد بن حنبل، المحقق : شعيب الأرنؤوط وآخرون، الناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الثانية ١٤٢٠هـ ، ١٩٩٩م، عدد الأجزاء: ٥٠ (٤٥+٥ فهارس)، مصدر الكتاب: موقع الإسلام،[ملاحظات بخصوص الكتاب]،ج:١٤، ص:٦٦.

vii- الترغيب في فضائل الأعمال وثواب ذلك، أبو حفص عمر بن أحمد بن عثمان بن أحمد بن محمد بن أيوب بن أزداذ البغدادي المعروف بـ ابن شاهين (المتوفى: ٣٨٥هـ)، تحقيق: محمد حسن محمد حسن إسماعيل، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م، عدد الأجزاء: ١، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، وهو ضمن خدمة التخريج]، ص:٧٢.

viii- الجامع الصحيح سنن الترمذي، محمد بن عيسى ـ أبو عيسى ـ الترمذي السلمي، الناشر : دار إحياء التراث العربي – بيروت، تحقيق : أحمد محمد شاكر وآخرون، عدد الأجزاء: ٥، الأحاديث مذيلة بأحكام الألباني عليها،ج:٥، ص:٥٠.

ix- مصنوعي ځيرکتيا - ويکيپېډيا/https://ps.wikipedia.org/wiki د استفادي نيټه:٢٠٢٥/١٢/١٧م.

x- الذكاء الاصطناعي اصبح احدى القوى الفارقة بالمجتمعات، شيخ الازهر، .2025 اكتوبر ٢٧ www://elbalad.elbalad.news.

xi- په دي اړه د زياتو معلوماتو لپاره لاندي بحث مطالعه کړئ: تطبيقات الذكاء الاصطناعي والروبوت من منظور الفقه الاسلامي، د. احمد سعد علي البرعي، استاذ الفقه المقارن المساعد بجامعة الازهر كلية الدراسات الاسلامية والعربية للبنين بالقاهرة.

xii- الذكاء الاصطناعي بين الإحسان والإفساد.. المحاذير الشرعية في عالم التكنولوجيا | مجلة المجتمع، دكتوره فداء منصور الجوهري، https://mugtama.com/articles

xiii- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧هـ)، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الثانية، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م، عدد الأجزاء: ٧، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع]، ج:٦، ص:٢٦٦.

xiv- الفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند، العالمكيرية، الناشر دار الفكر، سنة النشر ١٤١١هـ - ١٩٩١م، عدد الأجزاء ٦، ج:٣، ص:٢.

xv- البحر الرائق شرح كنز الدقائق، زين الدين ابن نجيم الحنفي، سنة الولادة ٩٢٦هـ/ سنة الوفاة ٩٧٠هـ، الناشر دار المعرفة، مكان النشر بيروت، ج٨، ص:٤٠٩.

xvi- البحر الرائق شرح كنز الدقائق، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: ٩٧٠هـ)، وفي آخره: تكملة البحر الرائق لمحمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري (ت بعد ١١٣٨ هـ)، وبالحاشية: منحة الخالق لابن عابدين، الناشر: دار الكتاب الإسلامي، الطبعة: الثانية - بدون تاريخ، عدد الأجزاء:٨، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، ومعه حاشية منحة الخالق]، ج:٨، ص:٤٠٩.

xvii- مغي المحتاج الى معرفة معاني الفاظ المنهاج، الخطيب الشربيني، ج:٢، ص:٣٢٥، ط.. دارالكتب العلمية بيروت، الطبعة الاولى، ١٩٩٤م.

xviii- حاشية ابن عابدين مع الدر المختار، ج:۴، ص:۵۱۳.

xix- المبسوط، ج:١٩، ص:١١١. المغنى لابن قدامه، ج:٣، ص:۴۱۸.

xx- اصول السرخسي الامام السرخسي، ج:٢، ص:٣٣٣، ط. دارالكتب العلمية، بيروت، سنة:١۴١۴هـ، تحقيق: ابي الوفاء الأفغاني، التقرير والتحبير.

xxi- الشخصية الاعتبارية ذات المسرولية المحدودة- دراسة فقهية اقتصادية، د. محمد علي القري، بحث منشور بمجلة دراسات اقتصادية اسلامية- المعهد الاسلامي للبحوث والتدريبو مج:۵، عدد٢، سنة،١٩٩٨م.

xxii- تطبيقات الذكاء الاصطناعي، ص:١٠٦.

xxiii- أدب القاضي، أبو العباس أحمد بن أبي أحمد الطبري المعروف بابن القاص (المتوفى: ٣٣٥ هـ)، دراسة وتحقيق: د. حسين خلف الجبوري، الأستاذ المشارك بكلية الشريعة والدراسات الإسلامية - جامعة أم القرى - مكة المكرمة، الناشر: مكتبة الصديق - المملكة العربية السعودية/الطائف، الطبعة: الأولى، ١٤٠٩ هـ - ١٩٨٩ م، عدد الأجزاء: ٢ (في ترقيم واحد متسلسل)، أعده للشاملة/ فريق رابطة النساخ برعاية (مركز النخب العلمية)، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع]، ص:١٠١.

xxiv- په دې اړه د تفصیل لپاره لاندې کتاب ته مراجعه وکړئ: أحكام تطبيقات الذكاء الاصطناعي في القضاء، تأليف دكتور اروى بنت عبدالرحمن بن عثمان الجلعود، الجمعية العلمية القضائية السعودية، ١۴١۴هـ ، الطبعة الاولى.

xxv- التقليد والإفتاء والإستفتاء، الشيخ عبدالعزيز الراجحي، الكتاب : موقع الشيخ على الشبكة، [http://www.sh-rajhi.com]، ص:٣۴.

xxvi- دور الذكاء الاصطناعي في صناعة الفتوى وضوابطها-دراسة مقارنة- اعداد أ.د. أيمن فوزي محمد المستكاوي، استاذ الفقه المقارن ووكيل كلية الدراسات الاسلامية والعربية للبنين، جامعة الازهر، فرع دسوق، ص:٣٩.

xxvii- صفة الفتوى والمفتي والمستفتي، أحمد بن حمدان النمري الحراني أبو عبد الله، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، الطبعة الثالثة، ١٣٩٧، تحقيق : محمد ناصر الدين الألباني، ص:٢٩.

xxviii- الموسوعة القرآنية، إبراهيم بن إسماعيل الأبياري (المتوفى: ١٤١٤هـ)، الناشر: مؤسسة سجل العرب، الطبعة: ١٤٠٥ هـ، [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع، وهو ضمن خدمة مقارنة التفاسير]، ج:٩، ص:٢٠٢.

xxix- العناية شرح الهداية، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: ٧٨٦هـ)، الناشر: دار الفكر، الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ، عدد الأجزاء: ١٠، [ترقيم

الكتاب موافق للمطبوع]، «الهداية للمرغيناني» بأعلى الصفحة يليه - مفصولا بفاصل - شرحه «العنايـة شرح الهدايـة» للبـابرتي، ج:٧، ص:٣٦٤.

xxx- شرح فتح القدير، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي، سنة الـولادة / سـنة الوفـاة ٦٨١هــ، النـاشر دار الفكـر، مكان النشر بيروت، ج:٣، ص:٤٦٣.